SHARIAT

شریعت

اوونیزه

په اوونی کي دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

پنځم کال ۸۷ گڼه پرله پسې (۳۷٤) شنبه د۱٤۲۱هـ ق کال د شعبان المعظم (۲۹)
د۱۳۷۹هـ ش کال د لیندۍ دمیاشتي (۵) د ۲۰۰۰ میلادي کال د نوامبر (۲۵)

در ولایت بامیان :

دو تن از قوماندانان مخالفین با نیرو هاي امارت اسلامي پیوستند

بامیان - باختر :

دو نفر از قوماندانان مخالفین امارت اسلامي همراه با افراد مسلح خویش از صفوف مخالفین جدا و در مربوطات ولایت بامیان با نیرو هاي اردوي امارت اسلامي یکجا گردیدند.

قوماندان احمدي و قوماندان سروري مربوط گروه خلیلي که قبلاً در مخالفت با امارت اسلامي قرار داشتند اخیراً با پي بردن به نتایج بي مفهوم مقاومت و ادامه جنگ در مقابل نیرو هاي امارت اسلامي دست از مخالفت برداشته از صفوف مخالفین جدا و همراه با بیست نفر از افراد مسلح خویش در مربوطات ولسوالي پنجاب ولایت بامیان با نیرو هاي اردوي امارت اسلامي یکجا گردیدند.

قوماندانان متذکره ضمن ملاقات با محترم سید امین عارف ولسوال پنجاب تعهد نمودند که در جهت تامین امنیت سراسري در کشور و خنثي نمودن دسایس دشمنان وطن مجدانه تلاش خواهند ورزید.

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي !، همدا (عدل) ډیر نژدې دی تقوا(پرهیزگاری) ته.
(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بي حرمتي بگذارید.

د بهرنیو چارو محترم وزیر له ویندرل سره په کتنه کي :

د قضیاو سالم حل په تفاهم کي غواړو

د اسلامي امارت تر واکمني لاندي سيمي له داډمن امنیت نه برخمني دي

د افغانستان اسلامي امارت په ټوله سيمه کي د سولي او ثبات غوښتونکي دي

د سوله ایزو هڅو له لاري کولي شو چي په خپلو ستونزو برلاسي شو

سوله او ثبات هغه څه دي چي ټول نړیوال په تېره ځوریدلي افغانان زیات ورته لیوال دي

کندهار - باختر :

د افغانستان د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر محترم مولوی وکیل احمد متوکل تېره ورځ د افغانستان په چارو کی د ملگرو ملتو د سازمان د سرمنشی له ځانگړی استازی شاغلی فرانسس ویندرل سره د کندهار په ښار کی وکتل.

ددغی کتنی په ترځ کی دواړو خواو د علاقی وړ موضوعگانو او د افغانستان د اسلامي امارت او د ملگرو ملتو ترمنځ د اړوندو ٤ مخ

په ارزگان کی:

د یوه جامع جومات د بنسټ ډبره کیښودل شوه

ارزگان - باختر :

د یوه جومات او د ارزگان ولایت د امنیه قوماندانی د ودانی د بنسټ ډبری پرون د دغه ولایت په مرکز کی د یولړ مراسمو په ترځ کی کیښودل شوی.

په دی غونډه کی په داسی حال کی چی د ارزگان ولایت د مرستیال د بیلا بیلو اماراتی دایرو ٤ مخ

خبرنگار اعزامي آژانس اطلاعاتي باختر :

تالقان را در أمن یافتم

تالقان - باختر :

شهر تالقان مرکز ولایت تخار در هفتاد کیلو متري شهر کندز موقعیت دارد دونیم ماه قبل بعد از چهل و دو روز جنگ شدید ص ٤

په فاریاب کی :

د سری میاشتی مرستی وویشل شوی

فاریاب - باختر :

د فاریاب ولایت د افغانی سری میاشتی ریاست په دی وروستیو وختو کی په شپیته بی وزلو کورنیو باندی خوراکی مواد ویشلی دی.

٤ مخ

دنغلو د دریم توربین په چالانولو سره به د کابل درنو ښاریانو ته :

د روژه ماتی په وخت په منظم ډول برېښنا ورسیږی

د اوبو او برېښنا وزیر محترم مولوی احمد جان

شریعت : درنو او قدرمنو لوستونکو ! زموږ خبریال د خپلو رپوټونو د برابرولو په ترځ کی دا ځل د اوبو او برېښنا وزارت ته سر ورښکاره کړي او د برېښنا د بهیر د څرنگوالی او نویو پرچاوېو په باب یې له محترم وزیر مولوی احمد جان سره مرکه ص ٤

با فعال شدن چاه غرب پروژه جدید:

مشکلات اب آشامیدني اهالي خیر خانه مینه حل گردید

کابل - باختر :

با فعال شدن مجدد چاه غرب پروژه جدید خیرخانه مینه بیش از ده هزار تن از اهالي منطقه متذکره از آب صحي آشامیدني مستفید گردیدند.

چاه متذکره که به ص ٤

در ولایت کندهار :

کار پاکسازي بند آب دهله شروع میگردد

کندهار - باختر :

کاسه بند آب دهله ولایت کندهار بمنظور پاك کاري از موجودیت گل سروي گردیده و عنقریب کار پاك کاري آن آغاز میگردد .

بند آب دهله که در جنوب شرق ولایت کندهار قرار دارد در سال ۱۳۳۲ هجري شمسي اعمار و ص ٤

په پکتیکا کی :

۲۱ بستریز روغتون تاسیس شو

پکتیکا - باختر :

د پکتیکا ولایت د عامی روغتیا ریاست د پرویشت بستریز روغتون په فعالیدو سره ددغه ولایت د خلکو روغتیایی ستونزی او مشکلات تر یوی زیاتی اندازی پوری لری شوی دی.

د هغو روغتیایی ص ٤

ښاغلی بهاول ملک عبدالرحیم زی د افغانی ماشومانو د پالنی جرگی غړی :

باید ټول افغانان له خپل مسلک سره سم د هیواد خدمت وکړی

شریعت : درنو لوستونکو! ښاغلی بهاول ملک عبدالرحیم زی د مالیی د پخوانی وزیر مرحوم عبدالملک خان عبدالرحیم زی زوی چی په دی ورځو کی له یوی اندازی طبی مرستو سره د المان نه هیواد ته راستون شوی، د نوموړی خبریه ټولنی او څینو نورو موضوعاتو په هکله زموږ خبریال مرکه ۲ مخ

علي الرغم تشدید تدابیر امنیتي صهیونستها قیامهاي جوانان فلسطیني ادامه دارد

به گزارش آژانس خبري ارنا علي الرغم تشدید تدابیر امنیتي توسط نیرو هاي اشغالگر اسرائیل در بیت المقدس مسلمانان فلسطیني بعد از اقامه نماز جمعه در ص ٤

په سر پل کی :

د افریدی کلی سرک ترمیم او کرېږ پری واچول شو

سرپل - باختر :

د سرپل ولایت د افریدی د کلی سرک ترمیم او کرېږ پری واچول شو .

٤ مخ

تایر هاي کروزین ۲۰۰۰ بالاي جاده هاي کند و کپر کابل

علي الرغم اینکه طی اشغال ارتش سرخ شوروي سابق و نابسامانی هاي اخیر کلیه سیستم هاي حکومتي کشور از هم پاشید و همه داشته هاي سرزمین و زیرزمین این ملك به خاك یکسان گردید: با وجود اینکه زیربناي مرکزي این وطن (اقتصاد) کاملا مضمحل شد و بضاعت و بضاعت پیشگان از مملکت فرار نمودند و بالاخره در نتیجه این همه جنگ و ویراني کابل در کنار سایر ولایات و شهر هاي کشور به یك ویرانه مبدل گشت، امروز در جاده هاي کند و کپر شهر کابل تایر هاي موتر هاي آخرین مودل سال چرخ میخورد.

بلي خواننده ارجمند! به امید ترقي و تعالي هر چه بیشتر کشور اینبار دوربین گزارش خویش را بالاي موتر فروشي هاي شهر کابل متوجه ساخته امیدواریم دیدني هاي ما مورد دلچسپي شما عزیز دوستان نیز قرار بگیرد.

حواشي جاده پرکي الي پروان سوم و قلعه نجارا و پنجصد فامیلي خیرخانه مینه در شهر کابل را نمایشگاه هاي موتر با به اصطلاح «بارگن» هاي موتر فروشي زینت خاص بخشیده و دیدن موتر هاي قشنگ و لکس این موتر فروشي ص ۳

انگلستان باردیگر به رژیم صهیونستي اسرائیل اسلحه صادر مینماید

منابع خبري جهان

بریتانیا بار دیگر به صدور اسلحه به رژیم صهیونستي آغاز نموده است .

یك روز نامه چاپ اسرائیل به نقل از مقامات بریتانیایی گفت که صادرات اسلحه بریتانیا به رژیم صهیونستي پس از سي سال از سر گرفته شده و در ده ماه گذشته حکومت بریتانیا یکصدو شصت و پنج اجازه نامه صدور تسلیحات به رژیم صهیونست را صادر کرده است . تسلیحات مذکور شامل طیارات کشتي هاي جنگي تجهیزات دفاعي سلاح هاي سبك جنگي بم، هاوان و مهمات بوده است.

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

اروپایی ټولنه لا هم د مخدراتو ناری وهي

تیره اوونی پاکستان د اروپایی ټولنی د یو ځیړندویه پلاوی کوربه و کوم چی ظاهراً د پاکستان د روانی وضعی د کتنی لپاره راغلی و خو په هر حال د پلاوی غړو د افغانستان په هکله هم څرگندونی وکړی او هماغه زړی خبری یی بیا تکرار او خپله اندیښنه او خواشیني یی ښکاره کړه د افغانستان په باره کی د نوموړی پلاوی په خبرو کی یوه مهمه خبره دا وه چی د اسلامی امارت چارواکی دی د ۲ مخ

شریعت

د تأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دبوي ګنې بیه : په هیواد کې (۱۰۰۰) افغانۍ په پاکستان کې (۳) کلداري
پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱ توزیع و شکایات : ٦٢٨٥٩
جاري حساب : $\frac{٤٠٣٨٥}{٧}$ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاتې برخه

مخدراتو په هکله خپله تګلاره بدله او نړۍ والو غوښتنو ته دې سم ځواب ووایي. اروپایي پلاوي دا خبرې دومره په جدیت وکړې چې ان له پاکستانه یې په دې هکله پر افغانستان د دباو اچولو غوښتنه وکړه خو کله چې د مسألې بل اړخ ته ځیر شونو ګورو چې دا څرګندونې په داسې حال کې کیږي چې له یوې خوا په هیواد کې د کوکنارو د کرنې مهال تقریباً ختم دی او نړۍ والو خبري سرچینو هم پر له پسې دا رپوټونه خپاره کړي چې د امارت هلو ځلو عملاً د کوکنارو د کرمخه نیولې او خلک لګیا دي د کوکنارو پر ځای غنم کري . خلک هم په ډیر درناوی د خپلو اقتصادي مشکلاتو او نړیوالي بې پروایې سره سره د امارت غوښتنو ته مثبت ځواب وايي او د سیمه ایزو چارواکو سره مرسته کوي. د ننګرهار په ولایت کې خو بهرني خبریالان د سر په سترګو وینې چې بزګران غنم کري او وايي چې د اسلامي امارت امر واجب دی او په کلکه به یې عملي کوي ځینو خبریالانو لا دا رپوټونه هم ورکړي چې کـــــه په ځینو سیمو کې چا کوکنار کرلي هم دي نو ډېر ژر بیــــــرته له منځه وړل شوي دي.

له بلې خوا د ملګرو ملتو د مخدره موادو د مخنیوي د څانګې مسول ښاغلي برنالد فراهي په دې برخه کې د اسلامي امارت د بریالیتوب هر کلی کړی او دایي تایید کړی چې عملاً اوس د کوکنارو مخنیوی شوی دی او باید نړیواله ټولنه د دغو اقداماتو په وړاندې د لازمو مرستو تا بیا وکړي او هغه لګښتونه چې د افغانستان په شاوخوا هیوادو کې د امنیتي کمربند جوړولو لپاره په نظر کې نیول کیږي، دننه په افغانستان کې دې بزګرانو ته ورکړې شي.

اوس نو په هیواد کې ددغو واقعیتونو په نظر کې نیولو سره د اروپايي اتحاد یې د وروستیو څرګندونو په هکله باید نړیوال په خپله قضاوت وکړي چې دوی ولې ځان ناګاره اچولې او په دې باره کې یې ولې کوم مثبت ټکي له خولې نه راوځي .

په دې هکله د نړیوالو ټولنو دا ډول سوړ غبرګون هر چاته دا ګومان پیدا کوي چې ښايي د مخدراتو په باره کې د دوی دا ټولې ناري سورې بې ځایه وي نو ځکه یې اوس په ښندولو سره لا تندي تریو او د نورو مرستو په ځای یې خپلې فعـــالي پروژې هم وتړلي. خو په هر صورت اوس که نړیوال خپه کیږي یا خوشالیږي اسلامي امارت به د خپل دیني او ملي مسؤلیت په اساسی په خپله تګلاره ټینګ وي او د خپلې ټولنې د اخلاقي معیارونو د ساتنې لپاره به دغه مضر بوټي تخم او ریښه له منځه وړي مونږ په دې هم باور لرو چې د نړۍ خپلواک او سوله غوښتونکي هیوادونه به خامخا ددغې پرمختیا هر کلی وکړي او مغرض هیوادونه خو هسې هم په هیڅ ډول د بې ځایه تعصب نه لاس نه اخلي خو ان شاء الله حقایق او واقعیتونه په ډیر ښه ډول روښانه او د دښمنانو د تورونو اصلي موخې به رابرښیدې شي.

ارزش هاي ديموكراسي در انتخابات امريكا

وحیده «مژده»

انتخابات جنجالي رياست جمهوري امريكا و نا مشخص بودن برنده اين انتخابات پس از گذشت چند هفته از ختم انتخابات ياد آورد مورد مشابه در انتخابات مجلس شوراي اسلامي ايران است. در هر دو مورد شمارش ماشيني آرا زير سوال رفت و كار به شمارش دستي محول شد!

انتخابات در امريكا - چه انتخابات سنا ، چه انتخابات ايالتي و چه انتخابات رياست جمهوري مشخصه خاص خود را دارد. فصل انتخابات فصل پر اهميت شدن(لابي) هاست. حمايت (لابي) هاي پر نفوذ از يك كانديد تضمين محكم پيروزي به شمار مي آيد. (لابي) اصطلاحاً به گروه هاي اطلاق مي شود كه بر بنياد هاي نژادي، مذهبي يا قومي و اقتصادي گرد هم مي آيند و بخاطر رسيدن به مقاصد خاص فعاليت مي نمايند. بطور مثال (لابي) يهوديان در امريكا قدرتمند ترين (لابي) است كه از قدرت عظيم اقتصادي و تبليغاتي برخوردار است حمايت يهوديان از يك كانديد چه در يك ايالت و چه در سطح كشور امريكا به معني پيروزي آن كانديد در انتخابات است .

(لابي) يهوديان در سالهاي اخير تلاش كرده اند تا از اظهار بي پرده، اهداف خويش كه بيشتر در جهت حمايت از اسرائيل در برابر اعراب است خود داري ورزند ولي ماهيت مذهبي اين حركت در هر پرده يي كه باشد مشخص است . (لابي) يهود در سالهاي اخير سعي در تحرك بخشيدن به سازمان هاي ديگري تحت پوشش هاي غير مذهبي يا غير نژادي و قومي زده اند از آن جمله حمايت از سازمان هاي زنان در سطح امريكا و اروپا .

اين سازمان هاي زنان در امريكا امروز بحدي قدرتمند است كه نقش تعين كننده در انتخابات ايفا مي كند و چون ماهيت مشخص از نظر سياسي و يا مذهبي ندارد ميتواند تحت عنوان دفاع از حقوق زن در سراسر جهان زنان هر گروه و مذهبي را بسوي خود جلب نمايد.

بسياري از چنين (لابي) ها در زمان نزديك به انتخابات فعال ميشوند مدتي قبل (لابي) ارمني ها در امريكا خواهان آن گرديد تا كنگره، امريكا از قتل عام ارمني ها كه به ادعاي ارمني ها در سال (١٩١٥) بدست تركها صورت گرفته است بعنوان يك قتل عام عمدي و نسل كشي انتقاد نمايد و در مقابل اين اقدام (لابي) ارمني ها در انتخابات رياست جمهوري از حزب ديموكرات حمايت خواهد كرد .

ديموكرات ها تمايل داشتند تا به اين در خواست جواب مساعد دهند ولي اقدام جدي و به موقع دولت تركيه اين اقدام را به شكست مواجه ساخت . دولت تركيه رسماً اعلام نمود در صورتيكه امريكا واقعه سال ١٩١٥ را بعنوان يك نسل كشي اعلام نمايد دولت تركيه پايگاه هوايي(انجرليك) را از امريكا پس خواهد گرفت . دولت كلنتن در موقعيت دشواري قرار گرفت زيرا تيره گي روابط با تركيه كشوري كه يك هم پيمان ستراتژيك امريكا بشمار مي آيد با منافع ملي امريكا در تضاد بود و همان بود كه اين پيشنهاد به تصويب نرسيد و حزب ديموكرات از حمايت اين (لابي) محروم شد.

يكي از (لابي) هاي ديگر در امريكا كه شايد اهميت زيادي نداشته باشد (لابي) افغانهاست. ولي در شرايطي كه نتيجه، يك انتخابات را تفاوت چند صد راي تعين كند وجود هزاران افغان در امريكا نيز ميتواند قابل توجه باشد. قرار اظهار منابع موثق آنچه كه موثريت (لابي) افغانها را كاهش داده است نفاق و دو دستگي آنهاست ولي با وجود اين گروه هوادار شاه سابق نيز بعنوان (لابي) از موقع بخوبي سود بردند و در جريان انتخابات رياست جمهوري سعي نمودند تا به نفع (لويه جرگه اضطراري) حمايت دو حزب ديموكرات و جمهوريخواه را مورد ارزيابي قرار دهند.

قرار اطلاعات (لابي) مذكور بخاطر كه توجهي ديموكرات ها به طرح لويه جرگه از اين حزب دل خوشي نداشت و وعده هاي از حزب جمهوري خواه بدست اورده است كه در صورت پيروزي اين حزب از آنان حمايت جدي تر بعمل خواهد آورد.

اگر يك امريكايي وابسته به طبقه متوسط جامعه بخواهد در مورد سياست هاي داخلي حزب حاكم ديموكرات ابراز نظر نمايد بدون شك از بهبود وضع اقتصادي امريكا ابراز رضايت خواهد كرد ولي تنها وضع مساعد داخلي نميتواند نقش تعين كننده در انتخابات داشته باشد و اين نكته را انتخابات فعلي رياست جمهوري در امريكا بوضاحت نشان ميدهد .

تا چند روز قبل از آغاز انتخابات نتايج نظر سنجي هاي عمومي نشان از سبقت (الگور) بر (بوش) داشت ولي در آستانه انتخابات مسايلي در سطح جهاني بوجود آمد كه براي حزب ديموكرات خوش آيند نبود.

تلاش هاي كلنتن براي ايجاد صلح و آشتي در شرق ميانه به بن بست مواجه شد اين بن بست را موضوع آينده بيت المقدس بوجود آورد . امريكايي ها و اسرائيلي ها به اين گمان بودند كه عرفات اين توان را دارد تا به قيمت صلح با اسرائيل از بيت المقدس صرفنظر نمايد ولي غافل از اين بودند كه اين شهر مكان مقدسي است كه در قلب فرد فرد امت مسلمه جا دارد و فلسطيني ها به تنهايي در مورد آن توان تصميم گيري را مخالف با راي ساير مسلمين ندارند.

شكست اين تلاش ها كه با كشتار فلسطيني ها بدست نيرو هاي غاصب صهيونيست هر روز ابعاد گسترده تر بخود مي گيرد و بمباران مناطق فلسطيني بدست اسرائيل نشان داد كه اسرائيل و اعراب مجدداً به مواضع قديم خويش بازگشته اند و اين شكست سختي براي كلنتن بود .

حمله به كشتي جنگي امريكايي در سواحل يمن ، بستن سفارت هاي اين كشور در بعضي از كشور هاي عربي و افريقايي و محدود شدن مسافرت اتباع امريكا به بسياري از كشور هاي جهان نشان از شكست سياست خارجي امريكا دارد.

بسياري از مردم در امريكا ازخود مي پرسند كه آيا سياست مبتني بر فشار و زور تا چه حد ميتواند به نفع وجه امريكا در جهان تمام شود ؟ اينكه امريكا در مورد حمايت از منافع خود در برابر حملات تروريستي هميشه دروحشت و هراس است نشان از عدم كارايي سياست خارجي اين كشور بعنوان يك ابر قدرت ندارد ؟

در شرايطيكه قرار است نتيجه انتخابات رياست جمهوري امريكا با تفاوت چند صد راي تعين گردد هيچكدام از آنچه كه در فوق بر شمرديم در نتيجه انتخابات نميتواند بي تاثير باشد ولي يك سوال عمده در مورد جنبه هاي تخنيكي اين انتخابات است .

شايد بعضي ها از خود بپرسند كه اگر يكي از دو كانديد رقيب با بدست آوردن راي نصف نفوس ايالات متحده امريكا با اضافه چند صد راي برياست جمهوري انتخاب گردد آيا وي رئيس جمهور همه مردم امريكا خواهد بود ؟

جواب به اين سوال مثبت است زيرا در يك نظام ديموكراسي اقليت هر قدر كه از نظر تعداد به اكثريت نزديك باشد بايد راي اكثريت را (هرچند كه اكثريت را با برتري فقط يك راي هم بدست آورده باشد) بپذيرد ولي نتايج شمارش آراء در فلوريدا نشان ميدهد كه ماشين هاي شمارش آرا از دقت لازم در كار خويش برخوردار نبوده اند و اين عدم دقت را شمارش با دست بخوبي نشان داد .

در حاليكه شمارش آراء در پنجا و يك ايالت ديگر امريكا بوسيله ماشين صورت گرفته است چه تضمين وجود دارد كه ماشين ها در آن ايالات اشتباهات مشابه را مرتكب نشده اند ؟

مردم ايالات متحده علاقه دارند تا رئيس جمهور خوش قيافه و خوش تيپ را در قصر سفيد ببينند و به همين علت هر كانديد رياست جمهوري گذشته از اينكه تعدادي مشاور در امور اقتصادي و سياسي و اجتماعي دارند طرز پوشيدن لباس و آرايش سر و صورت خود را نيز با مشوره روانشناسان انتخاب مي كنند گاهي نتيجه نظر سنجي ها در آستانه انتخابات نشان ميدهد كه حتي طرز بستن (نكتايي) يك كانديد در جلب آراي عامه نسبت به وي تاثير داشته است. در جامعه يي با چنين معيار ها اهميت بخت و طالع و شانس را نيز نبايد دست كم گرفت .

شمارش با دست در ايالت فلوريدا نشان داد كه بعضي از اوراق راي را ماشين شمارش آراء سوراخ نكرده و در نتيجه در شمار نيامده است پس آيا كانديدي كه آراي داده شده به وي به چنين سرنوشتي گرفتار شده است بدشانس نيست ؟

براي مردم امريكا كه عادت دارند با خريد تكت لاتري هميشه بخت خود را در معرض آزمايش قرار دهند مسئله خوش شانسي نيز ميتواند يك معيار ديموكراسي بشمار آيد. شايد براي مردم امريكا اين نكته زياد مهم نباشد كه حتماً كانديدي برنده انتخابات اعلام گردد كه از راي بيشتر مردم برخوردار باشد. يك رئيس جمهور خوش شانس كه بخت باوي يار بوده و ماشين شمارش آرا برگه هاي راي را كه به وي داده شده بصورت بهتر سوراخ كرده است بيشتر قابل قبول است .

اينكه شانس و طالع تا چه حد ميتواند بعنوان يك معيار در نظام ديموكراسي غربي مورد قبول واقع گردد مسئله يي است كه بايد سياستمدار خوش شانسي كه بالاخره اين مرحله را پشت سر مي گذارد و قدم به كاخ سفيد مي نهد به آن جواب دهد ولي اين نكته كه راي حقيقي مردم امريكا تا چه حد در نتيجه اين انتخابات تجلي يافته است شايد هرگز بر ملا نگردد . آيا انتخاباتي با اين اندازه بيشتر به قره كشي لاتري شباهت ندارد ؟

باید ټول افغانان له خپل مسلک سره سم ...

ورسره کړې چې دا دي ستاسې د معلوماتو لپاره یې غټ ټکي دلته را اخلو :

[illegible] چې

په المان کې میشته افغانان د هیواد د بیا ودانۍ او سولې په باره کې څه فکر کوي ؟ داسې ووېل : په دې کې شک نشته چې ګران هیواد په مونږ ټولو افغانانو ډېر حق لري او بیا په ځانګړي ډول چې کله له دغه ستونزمنو حالاتو سره مخ شوی او ټوله شتمني یې د روسي یرغل په نتیجه کې له منځه تللې او په یوه ورانه کنډواله بدل شوی نو اوس د بیا ودانولو او د سولې د ټینګښت په باب هر افغان مسؤلیت لري چې د خپل مسلک او پوهې سره سم په دې برخه کې کار وکړي او خپله ملي ذمه واري سرته ورسوي نو په همدې اساس په المان کې هم ډېر خواخوږي هیواد وال شته چې په رښتیا هم د هیواد او خلکو په درد خوږمن دي . خو دومره خبره ده چې د اسلامي امارت تبلیغات ډیر کمزوري دي نو ځکه زیاتره مهاجر هیواد وال سمې معلومات نه لري چې اوس د خدای فضل دی ښه امنیت او سوله راغلې او د هیواد بیا ودانۍ ضرورت اقتصادي ملاتړ دی نو په کار ده چې د امارت مسولین په بهر کې میشته خلکو سره اړیکې زیاتې کړي او د هیواد په ودانۍ کې لاس کولو ته یې وهڅوي . زه یقین لرم چې که مهاجر هیواد وال لږ د اخلاص نه کار واخلي او هر یو د خپل مسلک سره سم د هیواد یوه ستونزه حل کړي نو ډیر ژر به زمونږ د هیواد والو پریشاني کمې او ډیرو خلکو ته به کار پیدا شي نو دا د ټولو افغانانو ملي وظیفه ده او چې نن د خپل هیواد په غم کې شریک نه شي او مرسته ونه کړي، څه وخت به یې کوي . نو موږ ته لویې جرګې په هکله ووېل : له بده مرغه اوس د پخوانۍ پاچا په شاوخوا کې یو شمیر داسې کسان را ټول شوي چې اصلاً هیواد ته د امارت بیا راستنیدو اراده نه لري او ځینو لا په خپل رغبت د بهرنیو هیوادو تابعیت هم اخیستی . دده ملګرو ملتو له خوا په هیواد اقتصادي بندیزونه وغندل او زیاته یې کړه چې دا ډیر ظالمانه او بې دلیله بندیزونه دي او لکه چې د عراق په هکله بې ګټې او بې نتیجې و ، دغسې به دلته هم بې نتیجې وي خو په هر صورت زمونږ د عام ولس مشکلات به نور هم زیات کړي .

ښاغلي بهاول ملک د خپلو مرستو په هکله ووېل : زمونږ د ماشومانو د پالنې ټولنه هڅه کوي چې تر ممکنه حده په هر ډګر کې د هیواد والو مرسته وکړي، مونږ تر اوسه درې کانتینره مال سامان هیواد ته د رارسولي چې ټوله بیه یې یو ملیون الماني مارکو ته رسیږي . دا ځل مو زیاتره طبي وسایل دارو درمل او څه لباسونه او جامې راوړي چې په دې کې مو یوه اندازه کتنونه . د . د جراحي لباسونه او څه تشخیصیه وسایل د ابن سینا صدري روغتون ته ورکړل او څه مو د لوګر ولایت د خروار ولسوالۍ نوي کلینیک سره مرسته وکړه .

همدا رنګه ځینې شیان مو ملالۍ زیږنتونو او د کابل طب پوهنځي ته هم ورکړل ، برسیره پر دې مونږ د کابل په ښیر شاه مینه کې د خپل پلار کور هم ترمیم او د یو روغتیایي مرکز په خدمت کې ورکړو او نور به هم ان شاء الله کوشش کوو چې

د ساینس نړۍ
جهان ساینس

دماغی پړسوب د پرله پسی خندا باعث گرځی

د (نیورومجی) طبی مجلی چی په امریکا کی خپریږی په وروستی گڼه کی دغه نادر حالت خپرلی او زیاته کړی یی ده : دغه پړسوب چی په (هامرتوما) سره یادیږی د یوی غدی په ډول چی د دماغو په تل کی را پیدا کیږی د پرله پسی خندا لامل گرځی .

ډاکټرانو د دغه خبر په استناد هغو خلکو ته چی ډیر او هر وخت خاندی توصیه کړی چی په طبی لارو چارو عمل وکړی او د خپلو دماغو اکسری دی مختللو مقناطیسی ماشینونو په واسطه ویاسی چی له دغسی خطرناک حالت ځخه وژغورل شی که څه هم دا احتمال نادر او ډیر لږ واقع کیدونکی دی.

ډاکتر صمویل بیر کوفیک چی دغه حالت د استرالیا په یوه طبی مرکز کی کشف کړی دی وایی چی دغه ورِ ناروغان له نوموړی مستمری خندا ځخه وروسته د لالهاندی او نا آرامی احساس کوی .

د خوب کم والی د شکری د ناروغی لامل جوړیدای شی

پخوا به د طب علماو دا سوچ کاوه چی گنی خوب صرف د دماغ لپاره گټور دیٰ او بس. مگر د شیکاگو د پوهنتون پلټنو چی پروفیسر ایفین کارتر اجرا کړی دغی خبری ته اشاره کړی چی خوب په عام شکل سره د جسم په اکثرو هورمونونو باندی اغیزه کوی.

کارترددی خبری سپیناوی کړی چی د خوب لږوالی صرف په دماغ تاثیر نه کوی بلکی د هغو مرضونو حملی چی له زوړوالی سره تړاو لری گړندی کوی، لکه د شکر ناروغی، د وینی د فشار لوړوالی ، بی حده چاغوالی، د ترکیزاوتوجه خرابوالی او دعقل کمزوری،

دوی په ۱۱ کسو تنکیو ځوانانو تجربی او ازموینی وکړی او په اوله مرحله کی ۸ ساعته ویده شول کوم چی د انسان طبیعی خوب دی خو یوه اوونی وروسته یی د خوب موده یوازی ٤ ساعتو ته را کمه کړه بیا یی یوه اوونی وروسته د هغو لپاره چی په خوب کی زیاتوالی کوی د یوی اونی لپاره د ۱۲ ساعتو خوب اجازه ورکړه د نتایجو د ځیړنی په وخت کی معلومه شوه چی د خوب کموالی په وینه کی د شکر او کورتیزون تناسب زیات کړی و او دا یی ځرگنده کړه هغه کسان چی لږ خوب کوی، هغه خوراک سره چی زیات کاربوهایدریت ولری په وینه کی د شکر د تنظیمولو لپاره زیات وخت ته اړتیا لری.

تر ۲۰۲۵ کال پوری به شل میلیونه امریکایان د دماغی کمزوری ښکار شی

واشنگتن :

په امریکا کی نوو ځیړنو ځرگنده کړی چی تر ۲۰۲۵ م کال پوری به ۱٤ ملیونو ځخه تر ۲۰ ملیونو پوری امریکائیان د عقلی او دماغی کمزوری (زهایمر) ښکار شی. امریکایی چارواکو په دغه باره کی خپله ژوره اندیښنه ځرگنده کړی .

له ځیړنو ځرگندیږی چی ۳۵٪ هغه کسان چی عمرونه یی له ۷۰ کلو ځخه پورته وی په نوموړی مرض (زهایمر) چی په دماغی خلاوو کی د غیر طبیعی پروتینونو د ترکیب په سبب رامنځته کیږی اخته شی.

د امریکا چارواکو د نوموړی مرض د لا ښه ځیړلو او د هغه د مخنیوی په خاطر موثرو داروگانو د جوړولو لپاره ۱۰۰ ملیونه ډالره بیل کړی دی.

آیا د حرارت درجه د جنسیت په ټاکلو کی څه رول لوبولی شی ؟

لندن شرق الاوسط

د فیکتور جیرش ځیړنو چی «ایپی دمیک» مجله کی نشر شوی دا معلومه کړی چی (موسم) او د تودوخی درجه د جنسیت په ټاکلو کی یو څه رول لوبولی شی. لکه چی مخکنیو شمیرنو هم دی ته اشاره کړی وه چی په جنوبی اروپا کی د نارینه شمیر د شمالی اروپا په پرتله زیات دی ځکه په شمالی اروپا کی د نارینه شمیر ۵۱،۲٪ په وسطی اروپا کی ۵۱،۳٪ او په هغو ملکونو کی چی په منځنی حوض کی واقع دی دا شمیر ۵۱،٦٪ ته رسیږی .

نشه ماری ۲۵ کاله مخکی بوډاتوب راولی

نشه د هغو اسبابو له ډلی یو مهم توکی دی چی سړی ژر بوډاکوی او د پوخوالی نبی پکی را ځرگندوی ، له همدی کبله یوه برتانوی ټولنه ټینگار کوی چی ښایی هر ځوک د تل لپاره له نشی ځان وساتی تر ځو اوږ د مهاله ځوانی ولری .

یوی روغتیایی مجلی د امریکا یی - انگلیسی گډو ځیړنو په لنډیز کی ځینی حقایق په لاندی ډول بیان کړی :

۱- د نشی تر ټولو زیاته اغیزه په هغو خلکو کی را ځرگندیږی چی په خام عمر کی یی پیل کړی وی .

۲- هغه وگړی چی نشه کوی د خپل عمر نه د روغو خلکو په پرتله د ۲۵-۳۵ کالو په اندازه تاوان کوی.

۳- په نړی کی د مړینی تر ټولو مهم سبب نشه ماری ده .

٤- د سرطان اویا نورو ناروغیو د راپیدا کیدلو نه مخکی نشه پریښودل سړی د مړینی له خطرناکو عواملو ژغوری او د پوستکی د ښه والی او جوړښت موقع ورکوی .

داصحابو دژوند پلوشی

مؤلف : دکتور عبدالرحمن رأفت باشا - مترجم : بشار **۴۰**

هغې وویل :په الله سوگند ،زمانظردادی چی ته ژرځان وورورسوی ،که پیغمبروی نوهغه ځوک چی ړومبی ځان وورورسوی نوهغه به دفضل ځښتن وی ،اوکه پاچاوی نوبیابه ته هم دهغه په نزد سپک نشی ،اوته به همغه ته اوسی .عدی وویل :مادخپل سفرشیان برابرکړل، اوبیادرسول الله صلی الله علیه وسلم په لوری روان شوم ترهغه چی بی له امان اولیک دغه الهی پیغمبرته ورغلم اوهغه په مدینه کی ؤ ،اودهغه خبره راته رسیدلی وه چی ویل یی :زه هیله کومه چی الله دعدی لاس زما په لاس کی کړی .نوزه ورننوتم اوهغه په مسجد کی ؤ نوپرهغه می سلام وکړ.

هغه وویل :

داکوم سړی دی ؟ماوویل :

عدی بن حاتم .

بیا هغه له خپل ځای ځخه پاځیداوزه یی له لاسه ونیولم او خپل کورته یی بوتلم په الله سوگند ،هغه کورته بیولم چی هغه ته یوه زړه کمزوری ښځه چی وړوکی ماشوم ورسره ؤ په مخه راغله اوهغه یی ودراوه اوتر هغه یی ورسره دخپل حاجت په باب خبری کولی ځو چی دداړوحاجت یی ترسره کړاوزه ولاړم. په دغه وخت مادخپل ځان سره وویل :

په الله سوگند ،دی پاچانه دی .

بیاهغه یوه توشکه چی پوښ یی دپوستکی اوپه داخل کی یی دخرما پانی وی ماته واچوله اوویی ویل :

په دی باندی کینه .ماورځخه حیاوکړه او ومی ویل :

بلکی ته پری کینه .هغه وویل:بلکی ته .

مادهغه خبره ومنله اوپه توشکه کیناستلم اوپیغمبرعلیه السلام پرځمکه کیناست اودا په دی چی په کورکی یی بله توشکه نه وه .نو مادځان سره وویل :په الله سوگند ،دادپاچاکارنه دی .بیا هغه ماته وکتل اوراته یی وویل :

ای عدی بن حاتمه !آیاته رکوسی نه وی چی ستادین دنصرانیت اوصابئیت ترمنځه ؤ؟

ماوویل : بلی همداسی ؤ.

هغه وویل :

ایاتاپخپل قوم کی دمرباع دپاره تگ اورا تگ نه کاوه چی تا به له هغوی ځخه هغه څه اخیستل چی هغه ستا په دین کی حلال نه ؤ؟

ماوویل :بلکی همداسی ؤ.ماهغه وپیژانده چی هغه لیږل شوی پیغمبردی .

بیا هغه راته وویل :

ای عدی ښایی هغه څه چی تاپه دغه دین کی له داخلیدلو منع کوی هغه به ستا په نظر کی دمسلمانانوحاجت اوفقروی،په الله سوگند ،پرمسلمانانوکی به مال دومره زیات شی تردی چی دهغه اخیستونکی به ونه موندل شی ای عدی ښایی هغه څه چی تاپه دغه دین کی له داخلیدلومنع کوی هغه به ستا په نظرکی دمسلمانانوکمښت اودهغوی ددښمن ډیرښت وی،په الله سوگند ،نږدی ده چی ته واوری چی ښځه به پرخپل اوښ له قادسیی ځخه وزی ترڅوچی د دغه کورزیارت وکړی اوهغه به بی له الله ځخه دبل هیچاځخه ویره نکوی .

اوښایی تا به په دغه دین کی له داخلیدلوځخه دامنع کوی چی ته پاچاهی او سلطنت دمسلمانانوځخه پرته په نوروکی وینی ،اوپه الله سوگند ،خامخانږدی ده چی ته به د دوی لخوا دبابل دځمکی دسپینوقصرونو دفتح کیدلو او دکسری بن هرمز دخزانو داستملاک خبرواوری .

ماوویل :ایا دکسری بن هرمزخزانی ؟!

هغه وویل : هو د کري بن هرمز خزاني . عدي وویل : په دغه وخت کی ما د ق شهادت وایه او اسلام مي ومانه.

باقي لري

تایر هاي کروزین ۲۰۰۰ بالاي ...

ها انسان را به یکبارگي از عالم مفلسي و بیچارگي به عالم هوي و هوس کشانیده و چنین خیال میکند که درین شهر تنها موتر فروخته میشود و بس.

غلام صادق «نورزاد» مالك موتر فروشي شمشاد در زمینه میگوید : امروز درشهر کوچك کابل بیشتر از یکصد موتر فروشي وجود دارد که در مجموع این نمایشگاه ها زیاده از ٤۰۰۰ عراد موتر که اکثراً تیزرفتار ها ویس هاي تولید شده (۱۹٦۵-۲۰۰۰). کمپني هاي مدرن جاپاني از قبیل فلنکوچ، تونس،کاستر، کرولا، پیجرو و ... مي باشد آماده براي فروش اند.

وي در رابطه به چگونگي تورید و فروش این موتر ها میگوید : هر هفته اضافه از یکصد موتر تیز رفتار از طریق مرز اسلام قلعه و ویش سپین بولدك کندهار وارد شهر کابل گردیده و تقریباً در هر هفته گاهي کمتر و گاهي بیشتر از ٦۰-۸۰ موتر درین بارگن ها بفروش میرسد.

قیمت اوسط موتر هاي این بارگن ها بین ۳-٤ هزار دالر امریکایي تخمین میگردد. یکتعداد موتر هاي مودل کهنه روسي،جرمني و جاپاني نیز درین بارگن ها تیر به چشم عابرین میزند که قیمت نهایي آنها زیاده از ٦۰۰ دالر نیست ؛ مگر در بین ، یکتعداد از بارگن ها که در آن ها موتر هاي مودل جدید جاپاني از نوع کروزین،لندکروزر، پرادو، سرف و ... نیز سراغ شده میتواند که قیمت آنها به مراتب بالاتر از قیمت سایر موتر ها مي باشد به عنوان قیمتي ترین موتر شهر، همایون مالك موتر فروشي افغان میگوید : شاید قیمتي ترین موتر این شهر در بارگن موتر فروشي افغان نزد ما باشد. بلي ! این موتر از نوع کروزین (۲۰۰۰) است که ما بالاي آن پنجاه هزار دالر امریکایي قیمت گذاشته ایم و منتظر هستیم که ببینیم چه کسي خریدار آن خواهد بود ؟

تا چند سال پیش تجار ملي کشور قادر بود هر نوع موتر را از کمپني هاي مشهور جهان چون مرسدیس بنز جرمني، بس تاتاي هندي، والگاي روسي، شوارلیت امریکایي، تویوتاي جاپاني و ... را از طریق بنادر بحري و بري جهان به کشور تورید نماید؛ لیکن از طي ۱۰ سال بدینسو تورید موتر در کشور بطور کل در انحصار کمپني هاي جاپاني قرار گرفته و تجار ملي ما نمیتوانند از سایر کشور ها موتر وارد نمایند:

البته بازاریابي این موتر ها قسمي است که قیمتي کمتر موتر هاي جدید التورید مستقیماً از کشور جاپان خریداري میگردد.

امروز اکثریت موترهاي جاپاني را تجار ملي کشور از طریق کشور هاي امارات عربي به شکل دست دوم خریداري نموده بعداً آنرا از طریق بندر عباس ایران به مرز اسلام قلعه و یا مرز ویش سپین بولدك کندهار انتقال داده و از آنجا این موتر ها را به کابل منتقل میسازند.

این موتر ها در اولین مرحله در بارگن هاي شهر کابل و ثانیاً از کابل به ولایات کشور انتقال داده شده و دست بدست بفروش میرسند.

کرولا غرفه دار یا «سراچه» از آن جمله تیز رفتار هاي جاپاني بشمار میرود که درین اواخر رقم تورید و استفاده آن در کشور ما تزیید قابل ملاحظه یافته است. چنانچه امروز ۵۰٪ موتر هاي موجود بارگن هاي شهر را همین «سراچه ها» تشکیل میدهد که قیمت في عراده آن بین ۳-٤ هزار دالر امریکایي مي باشد.

رسم فروش با داد و ستد موتر درین بارگن ها هم نقداً صورت میگیرد و هم قرضه، که عرف قرضه با ۳۰-٤۰ ٪ پیش پرداخت به جانب فروشنده بیشتر عمومیت دارد.

ولي ایکاش و ایکاش !

آن هموطن ما که قدرت و استطاعت خرید یك عراده موتر را به ارزش هزار ها دالر دارد و شمار اینگونه هموطنان ما هم نام خدا کم نیست چه میشود که این هزینه هنگفت را در عرصه هاي تاسیسات و موسسات عام المنفعه سرمایه گذاري نمایند تا به گفته، مشهور : « هم لعل بدست آید و هم یار نرنجد »

مهربان

تالقان رادر أمن ...

توسط مجاهدین اردوي اسلامي به نصرت الهي و همکاري مستقیم مردم تخار در هشتم ماه جمادي الاخر سال جاري تصفیه گردید و نیرو هاي اردوي اسلامي فاتحانه وارد این ولایت گردیدند ، محترم قاري احمد الله رئیس عمومي استخبارات میگوید :مسعود و مخالفین در این جنگ تمام عیار همه امکانات و وسایل نظامي و جنگي را بخاطر جلوگیري از پیشروي مجاهدین اردوي اسلامي بکار انداخته بودند اما از آنجائیکه آنان از حمایت و پشتیباني مردم ولایت تخار برخوردار نبودند و کاملاً از مردم منزوي گردیده بودند در مقابل مجاهدین اردوي اسلامي تاب مقاومت را از دست داده و فرار نمودند.

وي مي افزاید : زمانیکه قدم در این شهر بزرگ گذاشتم ازدحام مردم شهر تالقان تصویري را در ذهنم ایجاد کرد که گویا هیچگونه جنگ و درگیري در این شهر صورت نگرفته است زیرا در جاده هاي این شهر ازدحام مردم بعبور و مرور عراده جات کراچي ها و عابرین جوش و خروش داشت که حتي براي عابرین بخاطر عبور از یك جاده به جاده، دیگر مشکل پنداشته میشد.

ترافیك شهر فعال و در مقابل ساختمانهاي ادارات امارتي مردم سراغ کارهایشان آمده بودند مارکیت ها با بزازیها، قصابي ها عرضه کننده گان مواد نفتي مندوي هاي مواد خوراکه دکانها و سایر مغازه ها در شهر مملو از اجناس مورد نیاز بروي مشتریان باز بود و همه مصروف داد و ستد بودند.

خبرنگار ما علاوه میکند : باشندگان این شهر که از اثرتبلیغات مخالفین شهر را رها نموده بودند اکنون به منازل شان بر میگردند و جریان بازگشت آنان ادامه دارد اکنون تقریباً نود و نه فیصد باشنده گان شهر و نواحي آن در مناطق خویش زنده گي دارند آنان از عملکرد ها و برخورد دلسوزانه مسولین امارتي کاملاً راضي هستند و حمایت شانرا ابراز مي دارند . محترم ملا عبدالغفور باوري رئیس اداري ولایت تخار میگوید در نخستین روز هاي فتح شهر تالقان تمام ادارات امارتي فعال گردیده است بخاطر حل مشکلات مردم شورا هاي علما کرام و موسفیدان نیز تشکیل و ایجاد گردیده است .

با تصفیه شهر تالقان و گشایش راه هاي مواصلاتي تجارت رونق بیشتر یافته و در نرخهاي مواد اولیه بیست در صد کاهش آمده است چنانچه جمال قصاب میگوید گوشت گوسفند را في کیلو سي و پنج هزار افغاني گوشت گاو را في کیلو بیست هزار افغاني و گوشت گوساله را في کیلو بیست و پنج هزار افغاني بفروش میرسانیم که نظر به نرخ سابقه در هر کیلو ده هزار افغاني تنزیل به عمل آمده است .

محترم شیرین بیگ و رحیم داد در مندوي آرد فروشي شهر تالقان میگویند در خرید في سیر برنج اعلي پنجاه هزار افغاني و در خرید في سیر آرد بیست و سه هزار افغاني کاهش آمده است.

در شهر تالقان مسولین و کارکنان ادارات امارتي مصروف انجام خدمت به مردم میباشند ادارات خدمات عام المنفعه وظایف شان را طور عادي پیش مي برند چنانچه شفاخانه مرکزي شهر تالقان طور ۲٤ ساعته فعالیت دارد . سیستم مخابراتي و بانکي نیز فعال بوده و در خدمت شهریان قرار دارد.

اطلاعیه !

ټولو کورنیو او بهرنیوراجستر شویو موسسو او انجوګانو ته خبر ورکول کیږی چی د اطلاعاتو او کلتور وزارت د تاریخی آبداتو او موزیمونو د ریاست له اجازی پرته د تاریخی ابداتو د سروی ترمیماتو او کیندنو په باب چی د هیواد په بیلا بیلو سیمو کی شته اقدام ونکړی دنه رعایتولو په صورت کی هغه موسسی او انجوګان چی په خپله سر اقدام وکړی د اسلامی امارت اړوندو مراجعو له خوا د فعالیت امتیاز سلبیږی او یا په هغوشکایت حق ونلری.

۲۱ بستریز ...

فعالیتونو او خدمتونوپه دوام چی د هیواد د ولایتونو د عامی روغتیا د ریاستونو له خوا په اړوندو ولایتونو کی تر سره کیږی د پکتیکا ولایت د عامی روغتیا ریاست هم په دی وروستیو وختو کی ددغه ولایت د خیر کوټ په سیمه کی یو ملکی روغتون چی ۲۱ بستری لری فعال کړی دی اوپه دی روغتون کی څینه طبیبانی هم په روغتیایی خدمتونو بوختی دی.

د پکتیکا ولایت د عامی روغتیا ریاست مرستیال محترم طبیب غلام رسول کتوازی وویل : په هیواد کی د اسلامی امارت د ټینګښت له پیل څخه تراوسه پوری د نورو ټولګټو برخو په شان روغتیایی چارو ته زیاته او جدی پاملرنه شوی ده او د عامی روغتیا وزارت د خپلو طبی مرستو په ګړندی کولو او د درملو په رسولو سره تل له موږ سره مرسته کړی ده او دغه راز د دبلیو اچ او موسسی هم د درملو د برابرولو په برخه کی له موږ سره مرسته کړی ده .

ده وویل په ۱٤۲۱ هجری قمری کال کی نه یوازی د خیرکوټ د سیمی ملکی روغتون په بشپړه توګه فعال شوی دی بلکی دوازی خوارو غښتون هم فعال شوی دی او د ارګون د روغتون د جراحی سرویس مو هم فعال کړی دی

دغه راز د خپل طبی پرسونل د مسلکی پوهی د سطحی د لوړولو په خاطر مو د فارمسی روزنیز کورس هم جوړ کړی دی او یو سلو لس تنه د مسلکی پوهی په تر لاسه کولو سره له دغه کورس څخه فارغ شوی دی.

د پکتیکا ولایت د عامی روغتیا ریاست محترم مرستیال زیاته کړه د روان هجری قمری کال د محرم الحرام د میاشتی له پیل څخه مو شخصی درملتونونه په پرله پسی توګه کنترول کړی دی او دوه سوه یوویشت قلمه د تیر تاریخ او بی کیفیته درمل مو تر لاسه کړی دی او په عام محضر کی سوځول شوی دی.

دغه راز د روغتونونو او د روغتیایی کلینیکونو له ریوټونو سره سم د دول ډول ساری ناروغیو په تیره بیا د ملاریا او وچکی د ناروغیو په خلاف پراخه مجادله شوی ده او ددغه ولایت په ټولو سیمو کی د څښاک او بو څاګانی کلوریشن شوی دی او زموږ پرسونل د واکسیناسیون د کمپاین د تطبیق په کار کی هم فعال رول لوبولی دی چی لله الحمد ګټوری او ډادمنی نتیجی مو تر لاسه کړی دی.

د قضایاو سالم حل ...

مسئلو په تیره بیا د افغانستان د اسلامی امارت او د مخالفینو ترمنځ د خبرو په باب غور وشو

د افغانستان د اسلامی امارت د بهرنیو چارو محترم وزیر د اسلامی امارت له مخالفینو سره د خبرو اترو د ترسره کولو په باب د ښاغلی ویندرل د غوښتنی په اړوند وویل : د افغانستان اسلامی امارت تل په هیواد کی د سولی او امنیت د ټینګښت پلوی دی له همدی امله یی تل د خبرو غوښتنه کړی ده او د خبرو او مفاهمی له لاری د مسئلو د حل کولو په اصل باندی ټینګار کوی. او د همدي سوله ایزو هڅو له لاري کولي شو چي په خپلو ستونزو برېالي شو .

محترم متوکل زیاته کړه لکه څنګه چی د افغانستان مسلمان خلک په هغو سیمو کی چی د اسلامی امارت تر واکمنی لاندی دی د بشپړی سولی او امنیت په فضا کی ژوند کوی موږ غواړو په هغو سیمو کی چی لا تراوسه پوری بی امنیتی او بی ثباتی پکي شته زموږ هیواد وال له بشپړی سولی او امنیت څخه برخمن شی . نومړوي وویل : سوله او ثبات هغه څه دي چي ټول نړیوال په تیره ځوریدلي افغانان ورته زیات لیوال دي.

د همدی مقصد لپاره د افغانستان د اسلامی امارت مقام د افغانستان د اسلامی امارت او د مخالفینو تر منځ د سولی د خبرو د پرمخ بیولو په خاطر د پوهنی وزیر محترم ملا امیر خان متقی د سولی په خبرو کی د واکمن هیأت د رئیس په توګه ټاکلی دی.

په فاریاب کي ...

د فاریاب ولایت د افغانی سری میاشتی ریاست د خپلو بشر دوستانه فعالیتونو په دوام په دی وروستیو وختو کی اووه شپیته اعشاریه دوه ټنه خوراکی مواد چی وریجی ، غوړی ، غنم او نخود پکی دی په هغه ولایت کی په شپیتو یی وزلو کورنیو باندی ویشلی دی.

مشکلات آب ...

کمك مالي انجمن زنان کالفورنیاي جنوبي توسط محترم طبیب محمد ولي نوابي رئیس سازمان کمك رساني به مصیبت رسیده گان جنگ در افغانستان با نصب یك عدد پمپ زیرآبي با ملحقات آن به ارزش بیش از سه صد ملیون افغاني مجدداً فعال گردید.

یك منبع مربوط گفت : چاه متذکره به همکاري مستقیم هیأت رهبري وکارمندان فني تصدي ابرساني و کانالیزاسیون به فعالیت آغاز نمود که با فعالیت مجدد آن از ده هزار تن از اهالي پروژه جدید خیرخانه از آب صحي مستفید گردیدند.

کار پاکسازي بند...

مورد استفاده قرار گرفت.

این بند داراي چهارده کیلو متر طول پنجاه متر ارتفاع ، سه کیلو متر عرض و ظرفیت هشتصد و هفتاد و هشت متر مکعب آبرا دارا و شصت هزار هکتار زمین را آبیاري مینمود که طي سالیان متمادي گذشته نسبت عدم پاك کاري به ضخامت شانزده متر گل در آن رسوب نموده و باعث تقلیل ظرفیت بند متذکره گردیده است

یك منبع مربوط در زمینه گفت که بالاثر توجه مسوولین امور کاسه بند آب متذکره بمنظور پاك کاري از طرف ریاست عمومي پروژه وادي آب هلمند و ارغنداب سروي گردیده و عنقریب پاك کاري آن آغاز میگردد.

په ارزګان ...

مسوولین او یو زیات شمیر عالمان مجاهدین او اوسیدونکی حاضر وو ددغه ولایت د مرافعه محکمی رئیس محترم مولوی عشق الله حیدری د جوماتونو د جوړولو د سیګیو او د ټولګټو او امارتی تاسیساتو د بیا جوړونی او رغاونی په کار کی یی د افغانستان د اسلامی امارت د هڅونو په باب اوږدی خبری وکړی.

پروسته ددغه ولایت د مرستیال محترم مولوی عبدالمجید له خوا ددغو ودانیو د بنسټ ډبری کیښودل شوی.

دغه ودانی چی ټول ملحقات یی په پام کی نیول شوی دی په اساسی او پاخه ډول جوړیږی چی لګښت یی د افغانستان د اسلامی امارت له بودجی څخه تمویلیږی.

ملك	شپږ میاشتنی	کلنی
د ګڼون بیه له هیواد نه بهر		
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

د روژه ماتي په وخت په منظم ...

کړی چی دا دی ستاسی د مطالعی لپاره یی خپروو :

په پیل کی د اوبو او بریښنا وزیر محترم مولوی احمد جان داسی وویل : د کابل درنو ښاریانو ته پته ده چی سږ کال ډیره وچکالی ده نو له دی امله د بریښنا د فابریکو په بندونو کی هم د اوبو ډیر کمښت راغلی د بیلګی په توګه تیر کال د نغلو بند ته د اوبو بهیر په ثانیه کی ٤۳ متره مکعبه وو خو اوس په ثانیه کی ۱۲ متره مکعبه دی .

نو د پورتنی مشکل په نظر کی نیولو سره موږ د کابل په ښار کی نوبتی پرچاوی تر تطبیق لاندی نیولی دی.

په دی ډول چی د مازدیګر په څلورو بجو په دوه توربینه د نغلو او دوه توربینه د سروبی فابریکی څخه په اعظمی ظرفیت چالانیږی . چی مجموعی ظرفیت یی ۷۰ میګاواټوته رسیږی . خو بیا هم په شبکه کی ۳۰٪ پرچوی پاتی کیږی ، چی دغه پرچوی ورو ورو تر اتو بجو د شپی په منظم ډول د جدول له مخی تکمیلیږی.

د روژی د مبارکی میاشتی په درناوی موږ تصمیم لرو چی د شبکی چالانی د ماسپښین په دوو بجو پیل کړو، تر څو وکولای شو د نغلو د دریم توربین په چالانولو سره د کابل درنو ښاریانو ته د ماښام یا روژه ماتی په وخت په منظم ډول بریښنا ورسوو.

په دغه صورت کی به زموږ تولیدی ظرفیت تر ۹۵ میګاواټو لوړ شی.

په پای کی محترم مولوی احمد جان زیاته کړه دغه پروګرام به هره ورځ د ماسپښین له دوو بجو څخه د سهار تر شپږو بجو پوری دوام ومومی تخنیکی عارضی او د ترانسفارمرونو اضافه باری به له دغه پروګرام څخه مستثنی وی .

مرکه کوونکي : مهربان

په سر پل کي ...

دغه سرک چی د سر پل ولایت مرکز له دغه کلی سره نښلوی او د سختو اورښتونو له امله ویجاړ شوی وه د نړی د خوراکی موادو د سازمان او د لرغونی بلخ د مرستندویی موسسی له خوا د غنمو په مقابل کی د کار له پروګرام سره سم ترمیم او کربړ پری اچول شوی دی.

د سر پل ولایت مرستیال محترم ملا حیدر علی حیدری ددغه سرک د ترمیمولو د کار بهیر وکوت او ددغو موسسو د پاملرنی او د سیمی د خلکو د مرستی له امله یی قدر دانی وکړه .

علي الرغم تشدید تدابیر ...

صدد تظاهرات بر آمدند.

بر طبق گزارش خبري مذکور نماز گذاران به تدریج تظاهرات را شکل میدهند تا جنازه هاي دو فلسطیني که پریروز توسط سربازان وحشي اسرائیل به شهادت رسیده بودند تشیع نمایند.

دیشب سربازان اشغالگر اسرائیل خانه هاي مردم در شهر جرلا واقع در جنوب بیت المقدس را به گلوله توپ بستند. شهر بیت المقدس به یك پایگاه مستحکم نظامي تبدیل شده و نماز گذاران کمتر از سن چهل و پنج سال از ورود به مسجد الاقصیٰ منع گردیده اند.

پریروز دو فلسطیني دیگر که در تظاهرات روز هاي گذشته به ضرب گلوله سربازان خون آشام اسرائیل مجروح شده بودند به شهادت رسیدند.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim "Saqeb"
Editor: Ghulam M. Farooq
Printed by: Emirate's Printing Press